امارت اسلامی افغانستان

**د کانونو او پټرولیم وزارت**

د مس عینک پروژی ریاست

د نظارت او عملیاتي چارو آمریت

شماره ........ ۲۰۳
۲۲۷

تاریخ ۶ / ۴ / ۱۴۴۷

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د ریاست الوزراء اقتصادي محترم معاونیت ته!**

السلام علیکم و رحمه الله و برکاته؛

**موضوع: د مس عینک قرارداد د وخت د تمدید په اړه د بین الوزارتي مؤظفې کمېټې د منظور شوي راپور د متن په تړاو د تفسیر او وضاحت غوښتنه**

له هغه ځایه چې قدرمن مقام خبر دی، د مس عینک قراردادي کمپنی (MJAM) کانونو او پټرولیم وزارت ته په ۱۹ سپتمبر ۲۰۲۳ نېټې (۰۱۹) ګڼه لیک را استولی او په قرارداد کې یې د یو لړ تعدیلاتو غوښتنه کړې وه چې له هغو جملې څخه یې یو هم د قرارداد د مودې تمدید و. غوښتل شوي تعدیلات په ۱۶ پانو کې په ۱۴۴۵/۳/۱۳ نېټې د (۴۱۷/۱۸۶) ګڼه لیک په وسیله ستاسو درانه مقام ته لیږل شوي دي. درانه مقام د ۱۴۰۲/۱۰/۲۰ نېټې ۹ ګڼه مصوبې له مخې د کانونو او پټرولیم، صنعت او سوداګرۍ او اطلاعاتو او کلتور وزارتونو وزیر صاحبان او د افغانستان بانک لوی رئیس مؤظف کړل ترڅو پدې هکله لازمي کړني ترسره او خپل راپور اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي، تاکل شوې کمیټې عالي مقام ته خپل راپور په ۱۴۴۵/۷/۲ نېټه وړاندې کړی او د غوښتل شویو تعدیلاتو اړوند یې مشخصاً لیکلي دي:

**((...چې په پایله کې مؤظفې کمیټې د هیواد د اوسنیو شرایطو په پام کې نیولو سره د قراردادي شرکت د نوې طرحې د ټولو وړاندیزونو څخه پوازې د څمکې لاندې معدنکارۍ د ۳۰ کلونو مودې لپاره د قرارداد د وخت په تمدید باندې هوکړه وکړه او د طرحې پاتې نور وړاندیزونه و نه منل شول...))**

د مؤظفې کمیټې راپور د ریاست الوزراء د اقتصادي چارو کمېسیون د ۱۴۰۲/۱۰/۲۸ نېټې ۱۰ ګڼه مصوبې پر اساس تأئید شوی او د یاد کمېسیون پریکړه په خپل وخت د MJAM محترمې کمپنۍ ته د قانوني کړنو په موخه ابلاغ شوې دی، د یادونې وړ ده چې قراردادي کمپنۍ د اقتصادي چارو کمېسیون تمدید شوې موده د نورو ۳۰ کلونو لپاره تعبیر کړې او په دې وروستیو کې یې د دواړو لوړو ترمنځ د یوه یادداښت لیک د لاسلیک غوښتنه کړې ده. موضوع د لا زیات وضاحت غوښتلو په موخه ستاسو قدرمن مقام سره شریکه شوه ترڅو ستاسو لخوا د کان کېندنې د تمدید شوې مودې په رڼا کې، د ۲۰۰۸ کال څخه تر تمدیدي نیټې پورې د قرارداد د تعهداتو او مکلفیتونو د څرنګوالي او همدارنګه د قرارداد د تمدید شوې دورې د پیل او پای نیټې په ډاګه کولو سره سم غوښتل شوی یادداښت لیک ترتیب او قانوني کړنې ترسره شي.والسلام

الحاج ملا هدایت الله بدری

د کانونو او پټرولیم وزیر

۱۴۴۷/۴/۵

آدرس:چهار راهی مکروریان، کابل – افغانستان ویب سایت: www.momp.gov.af شماره تماس : ۰۲۰۲۹۲۷۱۶۲

قید وارده: ۱۵۱۹
۱۴۴۷/۴/۶